# د امریکا متحده ایالاتو او طالبانو ترمینځ د خبرواترو ستونزې

د سباوون خپرونه

پوهنمل ډاکټر عبدالقیوم مومند

www.sabawoon.com

د ۲۰۱۳ زیږدیزکال د جنوري د میاشتې ۲۷ نیټه

# د امریکا متحده ایالاتو او طالبانو ترمینځ د خبرواترو ستونزې

## لنډیز

د افغانستان د اوسنیو سیاسي او امنیتي حالاتو او په افغانستان کې د وسله وال پاڅون او مرګ ژوبلې د ډېریدو له کبله د جګړې دوارو خواوو دا رښتنواله منلې چې د افغانستان اوسنۍ جګړه د پوځي نښتو او جګړه ایزو لښکرکښیو او روزنیزو عملیاتو(مانورو) له لارې نشي کنټرل کیدی. دا جګړه یواځې هغه وخت پای ته رسیدی شي چې د امریکا متحده ایالات او طالبان خبرواترو او جوړجاړي ته کښیني. د بریالیو او موخه لرونکو خبرواترو او جوړجاړي لپاره ضروري ده، چې لومړی د شک او بې باورتیا فضا له مینځه ولاړه شي، د جګړې د اوږدولو او غیرواقعیي غوښتنو او تینګار په هکله یوځل بیا ژور فکر وشي او دا ټول خنډونه له مینځه ولاړ شي. همداراز باید هراړخیزه هلې ځلې وشي چې د پاکستان او سعودي عربستان د فشار او تاثیر مخه ونیول شي. د دې ټولو خنډونو د له مینځه وړلو څخه وروسته بیا د څو پړاویزو خبرواترو او جوړجاړي په هکله کار پیل شي. دا نږدیکت (اپروچ) به پای کې د جګړې او ستونزو ټولې خواوې په خبرواترو کې ګډې کړې. د خبرواترو او جوړجاړي موخه باید په افغانستان کې داسې هراړخیزه او پراخه سوله رامینځته کول وي چې په هغې کې د میرڅمنو (متخاصمو) قوتونو او ډلو ټولې اندیښنې او خفګان په نظر کې ونیول شوي وي او یوه تلپاتې سوله رامینځته شي.

## سرېزه

اوسنی جګړې، سیاسي کړکیچ اود مرګ ژوبلې ډېریدو د افغانستان سیاسي او امنیتي حالات د ۲۰۰۱ زیږدیزکال پر پرتله نورهم خراب کړي دي. سره له دې چې د امریکامتحده ایالاتو خپل پوځونه په افغانستان کې نورهم ډیر کړل او نړیوالو مرستندویه پوځونو (ایساف) په روانه جګړه کې د بیلابیلو پوځي اوجنګي تدبیرونو (تاکتیکونو) څخه کار واخست، ترڅو چې طالبانو ته ماتې ورکړې او په افغانستان سوله، امنیت اود قانون حاکمیت تینګ کړي، مګر حالات له پخوا څخه نورهم کړکیچن او خراب شوي دي او لا خرابیږي. طالبانو هم مخامخ جګړې او حملې وکړې او هم یې سرتیري بریدونه ترسره کړل ترڅو افغان او بهرنیو پوځونو ته درونډ تاوان ورسوي. له څه مودې راپدېخوا طالبانو د افغانستان په پوځ او پولیسو کې هم ریښې پیداکړي دي، مګر سره له دې ټولو هلوځلو طالبان پر دې نه دي بریالي شوي چې تینګې او تلپاتې لاسته راوړنې ترلاسه کړې. له دې کبله د جګړې دوارو خواوو دا رښتونواله منلې چې د جنګ جګړې په اوسنیو حالاتو کې د بهرنیانو، کابل حکومت او طالبانو ترمینځ جګړه د ټوپک او تاوتریخوالي لا لارې نشي کنټرل کیدی. دا جګړه یواځې د خبرواترو، پوهیدنې، یوبل ته د تیریدو او زغم، او سیاسي جوړښت لا لارې پای ته رسیدی شي. د

www.sabawoon.com د سباوون څېړنه

جګړې دواړه خواوې او نړیواله ټولنه دا رښتونواله مني چي د جګړې دواړه خواوې باید خبرو ته کښېني، مګر د ټولو خواوو څخه لار ورکه ده چي خبرې څنګه اود کوم ځای نه شروع کړي. د جګړې په اوسني پړاو کي د امریکایانو او طالبانو ترمینځ ځیني داسي ستر خنډونه شته چي د خبرو او جوړجاړې مخه یې نیولې ده. ترڅو چي دا خنډونه له مینځه ولاړ نشي، جګړه به پایښت(دوام) ولري اود امریکامتحده ایالات او طالبان به دواړه په دې خیال کي پاتي وي چي د وخت په تیریدو سره به یو بل ته ماتي ورکړی شي. د دې لپاره چي جګړه پای ته ورسیږي او په افغانستان کي سوله، امنیت اود قانون واکمني ټینګه شي، د دې لاندې ټکو څیړل او عملي کول ضروري دي.

لومړي: د جګړې د دواړو خواوو په مینځ کي د شک او بې باورتیا لویه فضا پرته ده. د امریکا متحده ایالات اود ناټو غړي هیوادونه دا فکر کوي چي طالبان به دسولي د غونډو فیصلي عملي نه کړي، ځکه چي د سولي خبرې اترې د طالبانو لپاره د هغوی د نظامي او سیاسي موخو د لاس ته راوړلو لپاره یوه وسیله ده او بس. له بل پلوه طالبان فکر کوي چي امریکایان د سولي خبرواترو ته رښتوني او راستمن نه دي او یواځي غواړي د سولي د خبرواترو تر چتر لاندې خپل پوځي او ستراتیژیکي موخي پرمخ بوځي اود حامدکرزي حکومت ته مشروعیت ورکړي.

د ګوانتانامو، بګرام او نورو زندانونو څخه د طالب بندیانو خوشي کول، د طالبانو د مشرانو او غړو نومونه د تورو او نورو لستونو څخه ویستل، اود هغو طالبانو ځای او ازار بندول چي په کابل اود افغانستان په نورو سیمو کي اوسیږي، دا ټول هغه مهم ښستونه دي چي د باورفضا په رامینځته کولو کي ستره مرسته کولی شي. همداراز د طالبانو لخوا په ملکي ځایونو باندې حملي درول او پوځي ځایونو باندې د حملو لړوالی به د باورفضا نوره هم غښتلي کړي. د پورتنیو عملیاتو لړول او درول به د سولي خبرواترو لپاره د طالبانو لخوا د چمتووالي یو لوی ګام وي. د دواړو خواوو لخوا د نرمښت ښودل او یو بل ته تیریدل باید داسي رنګ ورنکړل شي چي دوی به یو له بل څخه د وخت په تیریدو سره داراز نورې لاسته راوړني هم ترلاسه کړي شی، ځکه یو پر بل باندې د نورو شرطونو ایښودل او بیا ددې شرطونو له لارې لاسته راوړنه به خبرې اترې په لومړي پړاو کي شنډي کړي.

دوهم: د امریکامتحده ایالات فکر کوي چي د جګړې د اوږدوالي او ورسره د ځینو مالي او سیاسي سمونونو(ریفورمونو) له لارې به وکړی شي د افغان ملت فکر او زړه ته لار پیداکړي او هغوی راخپل کړي. په اړوند وخت کي امریکایان په دې هیله هم دي چي د سخت او قوي جنګ له لارې به دوی پر دې بریالي شي چي د طالبانو په لیکو او قوت کي کمزورتیا رامینځته کړي، ترڅو د خبرواترو په وخت امریکایان د یو قوي جهت نه خبرې وکړی شي. امریکایان وایي، که چیرې طالبان په پوځي برخه کي کمزوري شي نو د خبرواترو پرمهال به پر هغوی ایښودل شوي شرطونه په اسانی سره ومني. مګر دا ټولو ته څرګنده ده چي د تیرې یوولس کلني جګړې سختی نه په افغانستان کي سوله او امنیت رامینځته کړ او نه یې طالبان کمزوري کړل. د جګړې او کړکیچ په بل

www.sabawoon.com
د سباوون چاپونه

اړخ کې چې طالبان دې دا فکرکوي که چیرې دوی جګړه د ۲۰۱۴ زیږدیزکال تر پایه پورې اوږده کړي او بهرني پوځونه د افغانستان څخه ووځي، دوی به پر دې بریالي شي چې جګړه وګټي او د کابل حکومت ته ماتې ورکړي.

دریم: دجګړې دواړه خواوې، دخبرواترو دپیل نه وړاندې داسې غیرواقیعبینانه او غیر عملي شرطونه رامینځته کوي، چې خبرې اترې په لومړني حالت کې شنډې پاتې کیږي اود پرمختګ امید یې له مینځه ځي. د امریکامتحده ایالات په دې ټینګار کوي چې طالبان دې خپله وسله کیږدي، جګړه دې پای ته ورسوي، ترهګرۍ او تشدد سره دې غوڅون وکړي، د القاعدې سره دې خپلې اړیکې وشلوي اود افغانستان اساسي قانون دې ومني. په دې غوښتنو ټینګار خبرې اترې ټپوي. بلې خوا ته د طالبانو دا غوښتنه چې لومړی دې ټول بهرني ځواکونه د افغانستان څخه ووځي، بیا به دوی خبرواترو ته چمتو شي، هماغومره غیرعملي ده لکه د امریکایانو غوښتنه. همداراز د طالبانو ټینګار چې دوی د حامدکرزي د حکومت سره خبرې نه کوي او یواځې د امریکایانو سره خبرو ته چمتو دي، مسئله نوره هم کړکیچنه کوي. غوره لار به دا وي چې خبرې اترې په بیلابیلو پړاوونو کې ترسره شي، او راتلونکي پړاو د تیر پړاو د بنسټونو او پرمختګ نه وروسته رامینځته شي، چې په پیله کې باید د کابل حکومت، ګلبدین حکمتیار او سیاسي میرڅمن په خبرواترو کې ګډ کړی شي.

څلورم: پاکستان او سعودي عربستان په امریکا فشار راوستی چې پرته د دوی له ګډون څخه باید د طالبانو سره ځانګړې او مخامخ خبرې ونشي. دا فشار د امریکا او طالبانو ترمینځ د خبرواترو په مخ کې یو بل لوی خنډ دی. دواړه هیوادونه نه یواځې دا چې خپل شتون د خبرواترو په بهیر کې اړین ګڼي، بلکې غواړي چې خبرې اترې د دوی د سیورې او اغیزې لاندې پرمخ ولاړې شي. د کرزي حکومت، پاکستان او سعودي عربستان هڅې کوي چې د امریکا او طالبانو ترمینځ خبرو کې ستر لاس ولري ترڅو له دې لارې څخه خپل له مینځه تللی ارزښت بیرته ځای پرځای کړي، او یو قوي شتون ترلاسه کړي. طالبان له بلې خوا نه په دې هڅو کې دي چې په خبرواترو کې د کرزي د حکومت، پاکستان او سعودي عربستان اغیزې یا بیخي له مینځه یوسي او یا یې تر وروستي برید پورې کمزورې کړي.

پنځم: د سیاسي حل او جوړجاړتیا د رامینځته کولو لپاره باید لومړي او عملي ګامونه واخستل شي ترڅو د پراخې سولې لپاره لار هواره کړي. کله چې شک له مینځه ولاړ، د باورفضا د دواړو خواوو ترمینځ رامینځته کیږي. د دې فضا د جوړیدو څخه وروسته کله چې دواړه خواوې دې ته چمتو شوې چې خبرواترو ته کښیني، د هراړخیزه او جوړیدونکې کړنلارې جوړولو ته اړتیا پیداکیږي. خبرې اترې باید په مجموعي شکل ترسره نشي، بلکې په یو داسې پړاویزه او تلوني توګه پرمخ ولاړې شي چې په افغانستان کې یوه تلپاتې سوله رامینځته کړي. اوس مخکې له دې نه چې د خبرواترو په بنه او

www.sabawoon.com

اوډنه (سمبالښت) خبرې وکړو، غوره به دا وي چې خپل لومړي ټکي ته راوګرځو او پر دې خبرې وکړو چې شک او بې باورتیا څنګه له مینځه تللی شي اود خبراترو لپاره څنګه لار هواریدلی شي.

## شک او بې باورتیا

تراوسه پورې لومړنی او تیټ پوړې خبرې اترې کوم ځای ته نه دي رسیدلي اود ماتې سره مخ شوي دي، ځکه چې طالبان اود امریکا متحده ایالات دې خبروته دشک په سترګه ګوري او یوبل ته اخلاصمند نه دي. د امریکا متحده ایالات پر دې باور دي چې طالبان د سولې لپاره د خبرو په هکله رښتوني نه دي. امریکایان وایي چې د ۲۰۱۱ زیږدیزکال د سپتمبر په شلمه (۲۰) د برهان الدین رباني وژنه د دې خبرې یو غوره بیلګه ده. د امریکامتحده ایالات اود حامدکرزي اداره وایي چې د برهان الدین رباني وژلو دا ثابته کړه چې طالبان د سولې سره کومه مینه نه لري. دوی یوازې غواړي د سولې خبرواترو د نوم څخه بده ګټه واخلي، له دې لارې څخه خپله جګړه قوي کړي او په افغانستان کې نوې سیمې د خپل ځان او سمبالښت لاندې راولي. سره له دې چې طالبانو د رباني د وژلو پړه پر غاړه نه ده اخستې، بلکې دا پیښه یې غندلې هم ده، مګر د امریکامتحده ایالات اود کابل حکومت طالبان د دې پیښې مسئولین ګڼي. داراز شک کول د خبرواترو مخه نیسي.

طالبان وایي چې د امریکامتحده ایالات اود کرزي حکومت نه په سولې باور لري او نه سوله غواړي. امریکا د پاڅون تسلیمیدلو اود کرزي د حکومت مشروعیت ورکولو ته ژمن دي. دا یو واقعیت دی چې د جګړې د دواړو خواوو ترمینځ لاتراوسه هم شک او دوه زړه توب شته چې د خبرواترو د لارې څخه به سوله او سیاسي جوړښت رامینځته نشي، مګر بله چاره نشته. که سوله ونشي نو راتلونکې به یې ډیر خراب وي. د نیکې ارادې او رښتینو هلوځلو په نتیجه کې دا شوني ده چې سوله رامینځته شي اود افغانستان اوسنی لانجې ته د پای ټکی کیښودل شي.

د امریکا متحده ایالاتو او ناټو هیوادونو په سیاسي او رسنیزو کړیو کې دا پوهیدنه ستره اغیزه لري چې طالبان د سولې سره کومه مینه نه لري بلکې یوازې دې ته ژمن دي چې څنګه امریکایي اود ایساف هیوادونو پوځونو ته ماتې ورکړي او برې ترلاسه کړي. طالبان دې ته چمتو نه دي چې د میرڅمنو کړیو سره قدرت وویشي او یوازې د داسې یو مرکزي حکومت غوښتونکي دي کوم چې هغوی د خپل واک په دوران واکمن کړی و. هغوی غواړي داسې یو بنسټیز سمون غوښتونکی طالبي نظام جوړکړي چې په هغې کې شرعیت حاکم وي، ښځې او لږه کې حقوق ونلري او اسلامي بنسټپالنه ټولې سیمې ته خپره کړي. د طالبانو په هکله داراز فکر له بده مرغه د امریکا د سیاست او څیړنې د ډګر د مهموکسانو لکه انتوني کورډیسمن لخوا نورهم غښتلې کیږي. دې په خپلې هغې لومړنیزه لیکنه کې د کره کتنې او روښانونې لپاره یې ډیرو خلکو ته لیږلې وه، لیکي: ((طالبان اود هغوی د امارت جبهه د داسې یوې سولې سره کومه مینه نه لري چې په هغې کې دې د دوی سیاسي ګټې اود جنګ

www.sabawoon.com
د صباوون خپرونه

بريا، پرته له دې نه چې جنګ وکړي، خوندي نه وي.))[انتوني کورديسمن، د ځنځېدلي ماتې مخنيوی، ۲۸ مخ] داراز فکر او پوهيدنه د سولې خبرو ته لوی خنډونه پيداکوي.

له دې کبله چې ځينې شکونه له مينځه ولاړشي، د ناوړې پوهيدنې مخنيوی وشي اود باورفضا د رامينځته کولو لپاره لوی ګام واخستل شي، د امريکامتحده ايالات کولای شي د ګوانتانامو، بګرام او نورو پټو زندانون څخه طالب بنديان خوشي کړي، اود طالبانو نومونه د تورو او نورو لستونو څخه وباسي. دا به د باورفضا په رامينځته کولو او يوبل ته دشک په سترګه نه کتلو کې ډيره مرسته وکړي. پرته له دې څخه، داسې يوه د باور او امن فضا بايد رامينځته شي چې په هغې کې د طالبانو مشران پرته له کومې ويرې او تهديد څخه په خبرواترو کې ګډون وکړی شي. د طالبانو مشران بايد پر دې ډاډمن شي چې په خبرو کې د دوی ګډون اود ځانونه ښکاره کول د دوی د څار، څور او بندي کولو لامل ونه ګرځي. کله چې د طالبانو اود طالبانو د ملګرو څار او ځوريدنه په کابل اود افغانستان په نورو ښارونو، کلو او بانډو کې پای ته ورسيږي او دوی د ډاډ، باور او ارامتيا په فضا کې ژوند وکړی شي، هغه طالبان چې په جبهو کې جنګيږي د حال ښه والي ته به ځير شي او دا ډاډ به ترلاسه کړي چې د هغوی دښمن، د امريکا متحده ايالات، په رښتيا سره هم د سولې خبرې اترې غواړي اود افغانستان کړکيچ په سوله ايزه توګه د سياسي جوړښت او راکړې ورکړې له لارې پای ته رسوي.

ځينې سياستوال، پاليسي جوړوونکي او سياستپوه په امريکا او افغانستان کې په دې فکر او نظر دي چې په دې اندک وخت کې چې امريکا اود ايساف هيوادونه د خپلو پوځونو د وتلو په هکله خبرې کوي، د سولې په هکله خبرې اترې کول به طالبان د امريکا اود هغوی د ملګرو پوځي او سياسي کمزورتيا وګڼي. طالبان ښايي فکر وکړي چې امريکايان او ملګري يې خپلې مرستې کموي، د افغانستان څخه خپل پوځونه اوباسي او ځانونه تيښتې ته جوړوي. داراز فکر پرته د کوم دليل څخه نه دی رامينځته شوی. د امريکامتحده ايالاتو د پوځي قواوو په ليکو کې هم داراز بحثونه روان دي. دان ګرين په خپله ليکنه کې داسې ليکي: (( د طالبانو په مقابل کې جګړه د يوې ورځې څخه بلې ته د وړو پوزې ايښودلو سرحد ته رسيږي... د امريکا د پوځونو د وتلو زمزمې د امريکا د اقتصادي او مالي حالت او رښتونوالو سربيره، دا پوهيدنه هم رامينځته کړې ده چې امريکا د راتيټيدو او راپرځيدو په حال کې ده او امريکا به د وخت نه مخکې له افغانستان څخه ووځي.)) [دان ګرين، د طالبانو سره خبرې، ۱ مخ] له دې کبله چې داراز فکر او انديښنه له مينځه ولاړه شي او خرپړتيا ورکه شي طالبان کولای شي په ښکاره توګه د دې خبرې څرګندونه وکړي چې د سولې په هکله خبرې اترې د امريکا د کمزورتيا او راپرځيدو مانا نه لري اود امريکا مشروعه ګڼو ته به د افغانستان څخه کوم تاوان ونه رسيږي. د کوچني اختر په هکله د ملامحمدعمرمجاهد پيغام د داراز خرپړتيا د ليرې کولو په لار کې يو لومړی مهم ګام بريښيدل کيدی شي. دا پيغام د يرغل په مقابل کې د جهاد د بيلابيلو چارو، کړنلارو او مسئوليتونو په هکله هراړخيزه خبرې لري، مګر د بشري حقوقو، زده کړې، ښوونې او

www.sabawoon.com
د سباوون خپرونه

روزني، حکومت او ځينو نورو مهمو ټکو په هکله هم اوږدې خبرې لري. دلته يې يواځې هغه ټکي راخلو چې د دې ليکنې سره نږدې تړاو لري:

- د دې لپاره چې افغانستان د ټولو افغانانو ګډ کور شي، ټول په اتفاق او وحدت سره ژوند وکړي، اسلامي امارت به د اشغالګرو تر وتلو وروسته په مناسب وخت کې له افغاني جهتونو سره هم د افهام او تفهيم له لارې د داسې يو اسلامي افغان شموله نظام د قايمولو هڅې په کار واچوي چې ټول ولس ته د منلو وړ وي، او د مجاهدينو، شهيدانو، يتيمانو او کونډو آرمانونه پوره کړای شي.
- اسلامي امارت د قدرت د انحصار په فکر کې نه دی. افغانستان د ټولو افغانانو ګډ کور دی. لکه څنګه چې يې ټول اتباع د ساتنې او آبادولو مسؤليت لري همدارنګه يې د اهليت په درلودلو سره په حکومت کې د برخې اخيستلو حق لري. اسلامي امارت به په خپل ټول توان سره کوښښ کوي چې کار اهل کار ته وسپارل شي او په ځانګړې ډول له حکومتي ادارو نه د فساد تغر ټول شي.
- اسلامي امارت زده کړه او تعليم د خپل ګران ولس د دنيا د پرمختګ او د آخرت د سعادت ستر لامل ګڼي... اسلامي امارت په خپلو تشکيلاتو کې د تعليم او تربيې لپاره ځانګړی کميسيون لري، تر څو د خپل ولس لپاره تعليمي آسانتياوې برابرې کړي. مونږ ټول وينو چې وخت پر وخت يا ځينې ښوونځي سوځول کيږي، يا زده کوونکي مسموميږي، اوبيا يې پړه پرمجاهدينو وراچول کيږي. دغه کار په حقيقت کې د ماتې خوړلي دښمن د پټو دسيسو يوه لړۍ ده چې د مجاهدينو د بدنامولو لپاره يې ترسره کوي.
- مونږ د ښځو په اړه د اسلامي اصولو، ملي کلتو او خپل روا کلتور په رڼا کې د هغوی ټولو حقوقو ته متعهد يو.
- اسلامي امارت به د هېواد دننه او بهر مېشتو ټولو هېوادوالو ته داسې زمينه برابروي چې هغوی خپل علمي او مسلکي استعدادونه د خپل هېواد او خپلو خلکو د خدمت او سوکالۍ په لاره کې په کار واچوي.
- اسلامي امارت غواړي چې د اسلامي نظام په سيوري کې د هېواد بيارغونې، د کرهنې او زراعت پراختيا، د سړکونو، پلونو، او روغتونونو په علم ډول د زېربناوو جوړولو، د معدنياتو او کانونو استخراج، د ښارو ځمکو آبادولو، د هېواد صنعتي کولو او د نوې ټيکنالوژۍ ترلاسه کولو او ودې ته جدي پاملرنه وکړي.
- د افغانستان د تجزيې پلانوونکي بايد په دې خبره ښه ځان پوه کړي چې اسلامي امارت به د خپل ولس په ملاتړ هيچا ته اجازه ورنکړي چې په دې شوم پلان کې کامياب او هيواد مو د سمت يا قوم په نوم ووېشي.
- اسلامي امارت له ټولې نړۍ، خصوصاً اسلامي نړۍ او ګاونډيانو سره د اسلامي اصولو او ملي منافعو په نظر کې نيولو سره د متقابل احترام او دوه اړخيزو ګډومرستو په رڼا کې ښې اړيکې او نيک تعامل غواړي. د هيچا په داخلي چارو کې د لاسوهنې هوډ نه لري او نه چا ته په خپلو داخلي چارو کې د لاسوهنې اجازه ورکوي. اسلامي امارت ټولو نړيوالو ته داډ ورکوي چې هيچا ته به

اجازه ورنکړي چې د افغانستان خاوره د چا پرضرر وکاروي. همدارنګه ټولو ته په ډاګه کوي چې د اسلامي اصولو او خپلو ملي ګټو په رڼا کې ټولو نړیوالو قوانینو او اصولو ته درناوی لري.

- زمونږ جهاد او قرباني به تر هغه ګټورې پایلې ولري ترڅو چې په هغه ډول جهاد کوو په کوم ډول چې رسول اکرم صلی الله علیه وسلم او د هغه اصحابو کرامو رضوان الله علیهم اجمعین کړی دی.
- د خپل مظلوم ولس د ځان، مال او عزت ساتنې او ژغورنې ته جدي او له پخوا نه زیاته پاملرنه وکړئ. د نبوي نېکو او ښایسته اخلاقو په رڼا کې له خواخوږی، مینې، درناوي او شفقت نه ډک چلن ورسر ه وکړ ئ. په نېکو اخلاقو سره دولس زړونه راخپل کړ ئ. د ولس له ځورولو نه په کلکه ډډه وکړئ. هغه کسان چې خلک ځوروي، د هغوئ په اړه خپلو مشرانو ته خبر ورکړئ.
- د جهادي عملیاتو پر مهال له داسې تاکتیکونو نه کار واخلئ چې عامو هیوادوالو ته د سر او مال زیان ونه رسیږي. د هرډول ملکي تلفاتو نه د ځان ژغورنې په اړه چې کوم فرامین درکړل شوي د هغو رعایت شرعي وجیبه، او مخالفت یې دیني او دنیوي زیان دی. لهذا تاکیداً درته وایو چې که څه هم دښمن په لوی لاس د جګړې پرمهال د ولسي مرګ ژوبلې پېښېدل غواړي، خو تاسو په دې اړه پوره محتاط اوسئ او دا خپل مسئولیت وګڼئ. [ملامحمدعمرمجاهد، د کوچني اختر د رارسید په مناسبت پیغام، ۱۰-۳ مخونه]

دا پیغام چې ډیر طالبانو ته مخاطب دی اود افغانستان لپاره خاصه کړنلار لري. د کورني سیاست په هکله معلومات لري اود جهاد د نړیوال پراخولو او ترهګرۍ سره یې ډیره فاصله نیولې ده چې د شک او بې باورۍ په له مینځه وړلو کې اغیزمن ثابتیدی شي.

د ستونزې بله برخه د امریکامتحده ایالاتو او کابل حکومت هغې هلې ځلې دي، چې دوی غواړي د طالبانو ځیني غړي د پیسو او نورو اقتصادي او سیاسي وعدو له لارې د ځان ملګري کړي. داراز هلې ځلې د طالبانو د مشرتابه او غړو په مینځ کې نور شکونه او بې باورتیا رامینځته کوي. طالبان وایي چې د امریکامتحده ایالات اود کابل حکومت پرځای ددې چې د سولې د خبرواترو لپاره کار وکړي، په دې هلوځلو کې اخته دي چې د طالبانو په مینځ کې درز پیداکړي. د کرزي د حکومت لخوا جوړه شوې پروسه، چې له هغې لارې څخه کرزی غواړي ((منځلاري جنګیالي د جګړې څخه لاس واخلي، سیمه ایز خفګان او مخالفتونه حل کړي اود افغانستان اساسي قانون ومني)) [جیف برنشتاین، پاڅون سره خبرې، ۲۴ مخ] د طالبانو پورتنی شک او وینا نوره هم قوي کوي. برنشتاین د ایساف یو خپورشوي رپوټ ته اشاره کوي او وایي: ((د ۲۰۱۱ زیږدیزکال د اکتوبر تر میاشتې پورې د یوسل یوڅلویښت میلیون ډالري (۱۴۱۰۰۰۰۰۰ ډالر) پروګرام دوه زره نهه سوه (۲۹۰۰) جنګیالي د حکومت خواته راګرځولي دي.)) [جیف برنشتاین، پاڅون سره خبرې، ۲۴ مخ]

www.sabawoon.com

د امریکا متحده ایالات او ملګري يې فکر کوي که چیرې په غټه پیمانه خلک د طالبانو د غړیتوب او کرښو څخه ووځي او له هغوی سره لږشمیر خلک پاتې شي، نو هغوی به یواځې او ګوښه شي او د دې قدرت به له لاسه ورکړي چې جګړې او پاڅون ته دوام ورکړي. بیاهم د یادولو وړ ده چې د امریکا، د امریکا د ملګرو اود کرزي د حکومت لخوا داراز لوبې او مانورې طالبان دې ته مجبوروي چې فکر وکړي چې امریکایان او ملګري يې د طالبانو په مینځ کې د سختدریځو او منځلارو په نوم درزاچول او بیلتون راوستل غواړي.

ډیر خلک په غربي نړۍ او افغانستان کې نه غواړي دا واقیعت ومني چې (( د طالبانو په مینځ کې د جوړښت په پام او یا په منل شوې سیاسي توګه د منځلارو په نوم کومه ډله نشته چې د سختدریځو په مقابل کې کوم انډول رامینځته کړي. د طالبانو داراز ویشل د بیلابیلو طالبانو د ځانګړو نظریو د پو هیدو په هکله کومه ګټه نه کوي. ګټوره خبره به دا وي چې د طالبانو د مشرتابه اود طالبانو تیټپوړو جنګي قوماندانانو ترمینځ د فکر او واقعیت پیژندني په توپیر باندې فکر وشي. یوې خوا ته په چارو پوه او هوښیار، د سیاسي فکر خاوند او خبرواترو ته پلویان طالبان دې چې هغوی په دې پوه دي چې سیاسي حل یوه غوره لار ده، مګر په عین وخت کې بنسټپاله اسلام پال هم دي. بلې خوا ته هغه خلک (طالبان) دي چې د جنګ لار خوښوي اود تږهګرۍ لا لارې برۍ ترلاسه کول غواړي.)) [توماس رتینګ، قبیلویان څنګه طالبان دي، ۱ مخ] له دې سربیره ډیر خلک په دې پوه دي چې د طالبانو د بیلوالي او درزاچولو پالیسي کومه ګټه نه کوي او د دې پالیسی مخ ته بوتلل د امریکامتحده ایالاتو او کرزي د حکومت د حیثیت په رامینځته کولو او ملاتړ ترلاسه کولو کې کومه مرسته نه کوي. د امریکامتحده ایالات او ملګري يې لاتراوسه هم په دې غلط فکر کې دي چې طالبان د مالي ګټو او لاسته راوړني لپاره جګړه کوي او په مینځ کې کوم فکر او عقیده نشته. دا به رښتیا وي چې د طالبانو په کرښو کې به ځینې داسې کسان وو او لا به وي چې دجهاد اوجګړې له لارې ځانته مالي امتیازونه ترلاسه کړي، پیسې لاس ته راوړي، مګر د طالبانو د منځ کړی اود کرښو نورټول غړي د فکر او عقیدې لپاره خپلې جګړې ته پایښت ورکوي. سربیره پر دې، ددې خبرې هم څوک ذمه واري نشي کولای، هغه کسان چې له پیسو لپاره د طالبانو له کرښي څخه وځي او حکومت ته تسلیمیږي، بیرته به د طالبانو کرښو ته راستانه نشي. په دې کې هم شک نشته او دا د تعجب وړ خبره هم نه ده چې د طالبانو په مرکزي حلقه اود طالبانو په کرښوکې دسیاسي او پوځي پالیسیو د پلي کولو په هکله بیلابیل فکرونه او نظرونه شته او دوی به په ټولو خبرو کې یو له بل سره همغږي هم نه لري، مګر د بیلابیلو فکرونو او نظریو درلودل د منځلارو او سختدریځو په نوم د بیلتون او بې اتفاقی مانا نه لري. پرځای ددې چې په واقیعتونو سترګې پټې شي، یا ورته بل رنګ ورکړل شي، او یا هم پوځي او ملکي هلې ځلې او بیشماره پیسې پر دې مصرف شي چې طالبان کمزوي او ځانګړي کړی شي، غوره به داوي چې ټول فکر او غور دې ته راواړول شي چې په افغانستان کې جګړه او لانجه څنګه پای ته ورسیږي او دا لانجه څنګه حل شي. ((بریالی خبرې او ناسته په وسله پالو ډلو کې د سولې د خبرو پلویان

د سباوون خپرونه
www.sabawoon.com

غښتلي کوي او سياسي ځانګړي کول د تشدد پلويان غښتلي کوي.  دا موږ ته لارښودنه کوي چې لومړنی خبرې او ناستې باید د سولې د پروسې پیمانه وي او د امتیاز او لاسته راوړنې په سترګه ورته ونه کتل شي.))[کاترين بارنس، جګړې نه سولې ته بدلون د سياسي حل بيا خبرې، ۱ مخ)

بله خبره داده چې د امريکامتحده ايالات، د ايساف پوځونه اود کرزي حکومت فکر کوي چې د طالبانو په مينځ کې يووالی نشته او شيندلي دي.  له دې کبله دوی وايي، څه اړتيا ده چې خبرو ته کښينو، کله چې دا کيدونکې بريښي چې منځلاري طالبان ((د ښه امنيت، بيلابيلو سياسي ګډونونو او روغو اقتصادي فعاليتونو له لارو کولای شو د ځان ملګري کړو.  د طالبانو د غړو کموالی او کمزورتيا اود طالبانو بيوسي د نوو غړو په پيداکولو کې، به ددې لامل شي چې د طالبانو مشران خپلې طرحې پرمخ بوتللی شي.)) [جيف برنشتاين، پاځون سره خبرې، ۳۰ مخ]  سربيره پردې د طالبانو سره خبرې به د افغانانو د بنيادي بشري او سياسي حقوقو د مينځه وړلو مانا ولري.  هغوی سره خبرې به د يو سخت دريځه شرعي نظام د عملي کولو مانا هم ولري چې دا ټول به د نارينه څخه ډير د ښځو په حيثيت او ازادی تاثير ولري.  همداراز ويره شته دی چې د طالبانو په راتللو سره به د لږه کيو حقوق وځپل شي.
دا ټول تشويشونه چې د امريکا متحده ايالات، د هغوی ملګري اود افغانستان حکومت يې لري، سره له دې چې تبليغاتي اړخ لري، مګر ډير بيځايه هم نه دي.  د طالبانو د واکداری د دورې تجربه ټولو افغانانو او نړيوالو ته معلومه ده.  د طالبانو په هکله دا ويره، انديښنه اود طالبانو په هکله غلطه پوهيدنه له دوو لارو څخه حل کيدی شي.  لومړی: د سولې د خبرو د پيل نه مخکې بايد طالبان خپله سياسي، اقتصادي، تعليمي، او ټولنيزه کړنلاره او تګلاره د افغانستان خلکو او نړيوالو ته څرګنده کړي ترڅو ملت او نړی په دې پوه شي چې طالبان څه غواړي.  دوهم:  په راتلونکي حکومتي جوړښت کې چې د سولې د خبرواترو له لارې رامينځته شي، طالبان به يوازيني واکمنان نه وي، بلکې واک او حکومت کول به د نورو سره ګډ وي.  دسولې دخبرو په دوران کې به طالبان حتماً هغو ځينوشرطونو او اصولوته غاړه ږدي، دکومې پراساس چې دافغانستان د راتلونکي حکومت او واک اساس او تګلاره جوړيږي.  دا فيصلې به د طالبانو په ګډون د ټولو ميرځمنو قوتونو لخوا يوځای کيږي او منل کيږي.
دا تړونونه او منل د پورتنی ويرې او انديښنې په کمولو او حتی ورکولو کې ستره ونده ترسره کولی شي.  له دې کبله غوره به دا وي چې د کرزي حکومت د افغانستان د سياست ريښتينی حالت ومني، د خپل حکومت محدوديت او ورتيا ته ځير شي او دا ومني چې د ده حکومت د دې وړتيا نه لري چې د خلکو خدمت وکړي او امنيت ټينګ کړي.  پرځای د دې چې د طالبانو د ګوښه کولو او کونج ته کولو په فکر کې اوسي، ښه به دا وي چې د سولې د خبرواترو واقعيي پلوتيا وکړي.

## د جګړې اوږدول د جګړې د کټلو په امید

ډير سياسي کارپوهان، سياسي څيړونکي، سيلستوال او پوځي قوماندانان په افغانستان، امريکامتحده ايالاتو او ايساف هيوادونو کې دې نتيجې ته رسيدلي دي چې په افغانستان کې اوسنی جګړه يواځې د

www.sabawoon.com سباوون خپرونه

طالبانو سره د خبرواترو، سولې او سیاسي ترونونو له لارې پای ته رسیدی شي او بله کوم لار نشته. د سیاسي پاملرنو له کبله د امریکامتحده ایالات په رسمي توګه د طالبانو سره د خبرواترو او سولې مخالفت کوي. د امریکامتحده ایالاتو پالیسي جوړونکي او جنګي قوماندانان دا فکر کوي، که چیرې دوی د طالبانو سره خبرو ته ځانونه چمتو وښیي، دا به د دوی د کمزورتیا مانا ولري. دوی مخالفت کوي او چمتو نه دي چې تر هغه دمه د سولې خبرواترو ته کښیني او یا په دې هکله لومړنی خبرې هم وکړي، ترڅو چې دوی د جګړې په ډګر کې یو قوي ځای او دریځ نه وي ترلاسه کړی. له دې کبله د سولې د خبرواترو پرځای د جګړې اوږدول د امریکامتحده ایالاتو نوي پالیسي تشکل شوې ده. دوی وایي چې دیرش کاله کیږي چې په افغانستان کې جګړه روانه ده، افغانستان وران او ویجاړ شوی دی، خلک به بالاخره د جګړې نه په تنګ راشي اود پاڅون د ملاتړ څخه به لاس واخلي.

د خپلو پوځي او مالي ورتیاوو له کبله د امریکامتحده ایالات اوملګري یې دا فکرکوي چې د جګړې په اوږدولو سره به دوی په دې بریالي شي چې جګړه وګټي. همداراز داسي یو پراخه نظر هم شته او پټې هلې ځلې هم رواني دي چې د طالبانو شمیر، قوت او امکانات د سیاسي او مالي وعدو له لارې کمزوري کړي. د امریکامتحده ایالاتو او ناټوهیوادونو د پالیسیو پټیپوونکي فکرکوي، که چیرې د طالبانو سیاسي او پوځي قوت او قدرت کمزوری کړی شي او یا په ورو ورو له مینځه ولاړ شي، خلک به د دوی د ملاتړ څخه لاس واخلي، اود پرغلګرو قواوو په مقابل کې به پاڅون لومړی کمزوری او په ورو ورو سره به له مینځه ولاړ شي. دجګړې د اوږدولو داراز فکر دوه سترې ستونزې رامینځته کوي. لومړی، د یوې قوي پوځي دریځ د لاسته راوړلو لپاره باید جګړه نوره هم پراخه او خونړۍ شي. دا څرګنده نه ده چې ایا قوي پوځي موقف به ترلاسه شي او که نه، مګر دا څرګنده ده چې د افغانستان بیګناه ولس به نور هم له مینځه ولاړشي او افغانستان به نور هم وران او ویجاړ شي. دوهم، کله چې د جګړې او دښمن په هکله داراز فکر کیږي، پالیسي جوړوونکي او پوځي قوماندانان به هیڅکله هم د سولې خبرواترو ته لیوالتیا ونښیي او نه به یې لټه وکړي. طالبان هم د جګړې د اوږدلو په هکله د امریکایانو نظر ته نږدې نظر لري چې دا دواړه د خبرواترو او سولې په هکله هیلې له مینځه وړي.

په تیرو یوولسو کلنو کې د امریکامتحده ایالاتو په وار وار سره دا ویلي دي چې په افغانستان کې به طالبانو ته ماتې ورکوي اوجګړه به ګټي. پرجګړې باندې ټینګار اود جګړې په هکله داراز فکر امریکایان او ملګري یې دې ته مجبورکړل چې د بیلابیلو پوځي لاروچارو او ستراتیژیو څخه کار واخلي، چې په هغې کې کیمیاوي وسلې او د یورانیمو ېکارونه هم وه. سره له دې ټولو هڅو امریکا او ملګري یې پر دې بریالي نه شو چې طالبانو ته ماتې ورکړي او جګړه وګټي. یواځي دا نه چې جګړه یې ونشوه ګټلای، بلکې د افغانستان امنیتي حالت نورهم خراب او کړکیچن شوی او طالبانو په هیواد کې نورې سیمې هم د خپلې واکمنۍ لاندې راوستي دي. د امریکامتحده ایالاتو او ایساف قوتونو څخه لار ورکه ده او په دې نه پوهیږي چې د افغانستان اوسني کړکیچ ته څنګه د خلاصون لار

www.sabawoon.com

پيداکړي. همداراز دوی د ۲۰۱۴ زیږدیزکال د نسبي وتلو څخه وروسته هم د افغانستان لپاره کوم څرګند او روښانه تګلار نه لري چې د افغانستان جګړه به څنګه پای ته رسوي. ((دا څرګنده نه ده چې د امریکامتحده ایالات او ایساف دې کوم داسې اغیزمن پلان ولري چې په افغانستان کې د جګړې د سیاسي حالت په هکله کومه لارښودنه وکړی شي. همداراز د افغانستان د امنیتي قواو (پوځ، پولیس، امنیت) د روزلو او قوي کولو په هکله هم کوم روغ او جوړونکی پلان نشته.))[انتوني کورډیسمن، د ځنځیدلي ماتې مخنیوی، ۲۸ مخ]

د یرغل راپدیخوا، د امریکامتحده ایالاتو او د امریکا د ملګرو د هراړخیزو هلوځلو او جنګي کړنو سره سره، دوی په دې بریالي نشول چې یا په افغانستان کې سوله راولي او یا جګړه د جګړې په ډګر کې وګټي. د ۲۰۰۹ زیږدیزکال د ډسمبر د میاشتې په لومړی نیټې د بارک اوباما حکومت د افغانستان او پاکستان په هکله یوه نوې ستراتژي راوویسته چې (په افغانستان او پاکستان کې مخ په وړاندې) نومیده. دا ستراتیژي اولسمشر اوباما ملګرو ملتونو ته په خپله وینا کې څرګنده کړه او ویې ویل چې د امریکا تر ټولو لویه موخه په افغانستان او پاکستان کې د القاعدې له مینځه وړل، د طالبانو د قوت او پلوتیا کمزوري کول، او هغوی ته د کابل د رژیم د رانسکورولو اجازه نه ورکول دي. د دې موخو د لاسته راوړلو لپاره ولسمشر اوباما ځیني کړنلارې په لاندې ډول څرګندې کړې: ((لومړی، په راتلونکو اتلسو میاشتو کې به موږ خپله پوځي تګلاره پرمخ بوځو ترڅو د طالبانو ارزښت او قوت کمزوری کړو اود افغانستان د حکومت وړتیا لوړه کړو. دوهم، موږ به د خپلو ملګرو، یاني ملګرو ملتونو او د افغان ولس، سره په ګډه کار وکړو، یوه ملکي ستراتیژي به رامینځته کړو، ترڅو حکومت د لاسته راوړل شوي امن څخه ګټه پوره ته کړی شي.))[بارک اوباما، ملګرملتونو ته د افغانستان او پاکستان په هکله د ولسمشر وینا، ۴-۱ مخونه] که د افغانستان سیاسي او پوځي ربښتنوالو ته وکتل شي د اوباما د خبرو څخه راپدیخوا افغانستان د کړو وعدو او خبرو په مخالف اړخ کې روان دی. حکومت لاتراوسه هم په فساد ککړ دی او ورځ تربلې نور هم ککړ کیږي. قضایي او عدلي سیستم بیکاره او حتی په ځینو سیمو کې ناهانده دی. طالبان له پخوا څخه ډیر غښتلي شوي دي او نورې سیمې یې هم د خپل واک لاندې راوستي دي، حتی هغه سیمې چې امریکا اود کابل حکومت یې دعوه کوي چې د دوی په لاس کې دي. د جلال اباد په هوایي ډګر کې د امریکایانو پر هډه باندې حمله چې د ۲۰۱۲ زیږدیزکال د ډسمبر په ۲ نیټه سرته ورسیده او په هلمند کې د باستیان پر هډه باندې حمله چې د ۲۰۱۲ زیږدیزکال د سپټمبر د میاشتې په ۱۴ نیټه سرته ورسیده دا څرګندوي چې طالبان د دې قدرت لري چې په هرځای کې چې وغواړي حمله کولی شي او تاوان رامینځته کولی شي. ډیر څیړوونکي وایي چې د طالبانو بریا د طالبانو په زغم او صبر کې نغښتې ده. د وعدو په برعکس ګورو چې پاڅون ژوندی او غښتلی دی او کومه کمزورتیا پکښې نه ده راغلې. ځیني امریکایي کارکوونکي هم د امریکا د جنګ د پالیسی د اغیزمنتوب اود افغانستان د حکومت د ملاتړ په هکله شکمن او اندیښمن دي. په زابل کې د امریکامتحده ایالاتو لوړپوړی ملکي استازی ماتیو حوح هم د

سباوون څېړونه
www.sabawoon.com

دي خبرې پخلی کوي.  د خپلې دندې څخه د استعفا په لیک کې چې سفیرې نانسي پاول ته یې د ۲۰۰۹ زیږدیزکال د سپتمبر په ۱۰ نیټه لیږلی و، حوح داسي لیکلي وو: ((د شوروی اتحاد پر ځیر موږ هم د یو له مینځه تلونکي او راپرځیدونکي حکومت ملاتړ کوو اود یوداسي فکر (ایډیالوژی) روزنه او پرمختګ غواړو چې نه یې خلک پیژني او نه یې خلک غواړي...په افغانستان کې د امریکامتحده ایالاتو پوځي شتون د پښتنو پاڅون او ستراتیژیکي خبرتیا ته مشروعیت ورکوي. همدارز د افغان حکومت د اوسني حالت او سیاست څخه زموږ ملاتړ د حکومت او خلکو په مینځ کې واټن لار نور هم پراخه کوي.))[ماتیو هوح، د ګوښه کید لیک، ۳-۱ مخونه]  د امریکامتحده ایالاتو د ستونزو په هکله خو یوڅه رڼا واچول شوه.  اوس به راشو د طالبانو سیلست او ستونزو ته.  طالبان فکرکوي که چیرې دوی جګړه د ۲۰۱۴ زیږدیزکال تر پایه پورې اوږده کړي، نور ټول بهرني پوځونه د افغانستان څخه ووځي او یواځې د امریکا محدود پوځونه به پاتې شي، دوی به بیا وکړی شي چې د کابل حکومت ته ماتې ورکړي اود جګړې پر میدان کې بری ترلاسه کړي.  دا څرګنده نه ده چې ایا د امریکامتحده ایالات په رښتیا سره هم د افغانستان څخه خپل پوځونه وباسي او که نه. سړی باید له ځان څخه پوښتنه وکړي او په دې ژورفکر وکړي چې امریکا ولې افغانستان ته راغله؟ ایا په رښتیا سره طالبان او القاعده مطرح وو او که دا یرغل د نوې لویې لوبې د عملي کولو پیل و؟ دا یو جلا ځیرنه ده او ځانګړې ځیرني ته اړتیا لري، مګر دلته د ځینو معلوماتو راوړل اود هغې په هکله خبرې کول به دا موږ ته روښانه کړي چې د طالبانو پورتنی فکر ولې د بري منزل ته نشي رسیدی.

په کسپین او منځنی اسیا کې په لوړه کچه د ګازو او تیلو راپیداکیدلو د امریکا ستراتیژیکه او اقتصادي علاقه دې سیمې ته راښکلي ده.  په واشنګټن کې پالیسي جوړوونکو اود امریکا د تیلو ستروکمپنیو کوښښ وکړ چې د ګازو او تیلو ددې سترو زیرمو او چینو څخه د ایستني او بیا ددې توکو د لیږدولو کار، ځار او سمبالول په خپل لاس کې ونیسي.  سره له دې چې د سپتمبریوولسمي د پیښي څخه وروسته د امریکایانو په مینځ کې د القاعدې او طالبانو په هکله د قهر او بدل اور له نظر څخه نشي غورځیدی، مګر که د امریکامتحده ایالاتو اوطالبانو ترمینځ اړیکو او ورسره د تیلو او ګازو د پایپلاین مسلې ته په غور سره وکتل شي، دې پایلې ته رسیږو چې پر افغانستان باندې د یرغل موخه یواځې د طالبانو د حکومت رانسکورول اود القاعدې له مینځه وړل نه وه، بلکې د ترهګرۍ په مقابل کې د جګړې تر نوم لاندې په منځنی اسیا کې د امریکا ستراتیژیکو او اقتصادي موخو ته رسیدل وو.  اندې راول په دې هکله داسي کښنه کوي: ((څومره چې په افغانستان کې جګړه واضح کیږي دا څرګندیږي چې قهرجني سیاسي هلې ځلې رواني دي چې د افغانستان راتلونکی حکومت هم دیموکراټ وي او هم د لویدځې نړۍ ملاتړکوونکی.  په دې چاودیدونکي سیاسي معادله کې په سیمه کې د تیلو او ګازو د زیرمو د ځار او سمبالښت ستونزه په ډیره حساسه توګه نغښتل شوې ده.))[اندې راول، شتمنیو ته لار، ۱۱۴ مخ]  د طالبانو د واکمنی په وخت، د څووکلونو خبرواترو وروسته هم طالبان د امریکامتحده

www.sabawoon.com

ایالاتو سره کیکار او ملګرتیا ته چمتو نه وو. له دې کبله دا ضروري وګڼل شوه چې د طالبانو حکومت ړنګ کړی شي او پرځای يې داسې یو حکومت رامینځته کړی شي چې په افغانستان او مرکزي اسیا کې د امریکا د ګټو څخه ملاتړ وکړي. مګر د کلنټن او بوش حکومتونه دواړه په دې بریالي نشو چې داسې یوځوک او یا یوه ډله پیداکړي، چې نه یوازې د امریکا د ګټوڅخه ملاتړ وکړي، بلکې د افغان ولس ته هم د منلو وړ وي او یو قوي مرکزي حکومت جوړکړی شي. د۲۰۰۱ زیږدیزکال د سپتمبریوولسمي پیښې نه وروسته د افغان ولس د منلو خبرې خپل ارزښت له لاسه ورکړ. دا ارزښتناکه نه وه چې د طالبانو د حکومت او نظام د ړنګیدو نه وروسته څنګه حکومت او څنګه نظام رامینځته کیږي. ارزښتناکه دا وه چې یو نوی حکومت باید دطالبانو پرځای په واک راشي. د طالبانو دحکومت د ړنګولو اود یوداسې حکومت د رامینځته کولو په خاطر چې دامریکا منونکی وي، د بوش اداري د هغوکسانو اوجنګسالارانو سره معامله وکړه چې لاسونه یې د افغان ولس په وینو سره وو اود ۱۹۹۲ زیږدیزکال نه تر۱۹۹۶ زیږدیزکال پورې د افغانستان د کورنی جګړې، وروروژنې، تباهی، لوټ او بې امنیتی مسئولین وو.

بله د غور وړ خبره داده، که چیرې نورتول بهرني پوځونه له افغانستان څخه ووځي، لومړی خو به امریکایان دومره پوځونه په افغانستان کې پرېږدي چې کابل رژیم د څه مودې لپاره ژوندی وساتي. دوهم، د کرزي حکومت به هم ددې جوګه وي چې د یوڅه مودې لپاره د ځان څخه ساتنه وکړي. د افغانستان نږدې تاریخ ددې خبرې شاهد دی. کله چې روسان د افغانستان څخه په ۱۹۸۹زیږدیزکال کې ووتل د نجیب الله حکومت وکړی شو د مجاهدینو په مقابل کې تر۱۹۹۲ زیږدیزکال پورې مقاومت وکړي. په ۱۹۹۲ زیږدیزکال کې د مجاهدینو د مشرانو سره د نجیب الله خبرې او مجاهدینو سره راکړه ورکړه وه چې د هغه حکومت ته یې د پای ټکی کیښود. د امریکامتحده ایالاتو او افغانستان ترمینځ د لاسلیک شوي ستراتیژیک تړون پراساس د امریکامتحده ایالات مسئولیت لري چې د افغانستان په دفاع کې مرسته وکړي اود یاغیانو په مقابل کې جګړه وکړي. له هرڅه نه مهمه خبره داده چې په تړون کې راوړل شوي دي چې ((د پوځي عملیاتو چارې به د اوسني چلن پراساس پرمخ ځي.))[سپینه مانۍ، امریکا او افغانستان ترمینځ ستراتیژیک تړون، ۵-۱ مخونه] ددې مانا دا ده چې جګړه به روانه وي، نور خلک به هم مړه شي او هیڅوک به هم ګټونکی نه وي. د افغانستان اوسنی جګړه او کړکیچ به په سولیدونکي (war of attrition) جګړه بدله شي. له بل پلوه پخوانی شمالي ټلواله اود میرخمنو نورې ډلې په ډیرو درنو او سپکو وسلو سمبال دي چې د جګړې په بڼګړ کې د هغوی ماتول به د پښتنو او خاصتاً طالبانو په درانه ځاني او مالي تاوان په بیه پریوځي.

په نړۍ کې زړو تاریخي ازمایښتونو او تجربو دا جوته کړې چې د سولې په هکله خبرې هغه وخت د برې منزل ته رسیږي چې د جګړې دواړه خواوې دې پایلې ته ورسیږي چې نشي کولای د جنګ او جګړې له لارې خپلو لوړو هیلو او موخو ته ورسیږي. د امریکامتحده ایالاتو انقلاب، د الجزایر د ولس پاڅون د فرانسې د یرغل په مقابل کې، په نامیبیا، ایل سلوادور او انګولا کې کورنی جګړې، اود

www.sabawoon.com
سباوون څېړونه

فلسطینیانو او اسرائیلو ترمینځ جګړه، په دې تولو کې د پردې شاته خبرې اترې ددې غوره بیلګې دي چې جګړه مارې ډلې مجبوره شوې چې د سولې خبرواترو ته کښیني، ځکه جګړه په جګړې نه خلاصیده اویو له بل سره نه کښیناستلو او سرتمبګې کومه پایه نه درلوده. له دې کبله ((تود جنګ اود سولې په هکله خبرې اترې د جګړې په دوران کې همغږې پرمخ رواني وې. سرې دا ویلی شي چې دواړه د یوې سیاسي پانې دوه مخونه دي.))[جیف برنشتاین، پاځون سره خبرې، ۲۴ مخ] که د جګړې اوږدولو او طالبانو د مشرتابه د له مینځه وړلو پالیسی ته پایښت (دوام) ورکړل شي نو کیدی شي امریکایان او ملګري یې هغه طالبان مشران هم په دې بهیر کې له مینځه یوسي چې د سولې په هکله د خبرواترو نلستې ته چمتو دي.

که ایساف او امریکا غواړي چې جګړې ته د پای ټکی کیښودل شي، سوله، امنیت او پایښت لرونکی اقتصادي او سیاسي پرمختګ رامینځته شي، اود افغانان په ژوند کې روغونکی او مثبت بدلون راشي، لټون باید ونشي چې جګړه څنګه اوږده شي اود طالبانو نظامي او سیاسي وړتیا څنګه کمزوري کړی شي، بلکې د امریکامتحده ایالات اوملګري یې باید جګړه پای ته ورسوي اود طالبانو سره د یوسیاسي حل په لټون کې شي. د امریکامتحده ایالات او نړیوال ملګري یې باید خپلې هڅې دې ته ځانګړي کړي چې څنګه ځانونه د افغانستان په ځانګړیو ټولنیزو ارزښتونو، سیاسي کلتور اود ولس په لومړني او بنسټیزو اړتیاوې پوره کړي. په پورتنیو ارزښتونو نه پوهیدل اود هغو څخه سرغړونه کول به د امریکامتحده ایالاتو قدرت او اغیزه په افغانستان کې د ماتې سره مخ کړي.

**بیځایه غوښتنې او شرطونه**

د امریکامتحده ایالاتو غوښتنې او شرطونه چې طالبان دې د افغانستان اساسي قانون ومني، خپله وسله دې پرمځکه کیږدي اود امریکایانو او کابل حکومت د بې وسلې کولو پروسه دې ومني، د سولې د خبرواترو لپاره ستر خنډونه رامینځته کوي. که طالبان دا ټولې غوښتنې او شرطونه ومني بیا خو د جګړې او یا د سولې خبرواترو کومه اړتیا نه پیداکیږي. همدارز د طالبانو لیدلوری چې د افغانستان اساسي قانون دې یا د نظرڅخه وغورځول شي او یا دې له مینځه یووړل شي، همدومره غیرواقعبینانه خبره ده لکه د امریکایانو غوښتنه چې طالبان دې اساسي قانون ومني. په اساسي قانون کې سمون او بدلون رامینځته کیدی شي او دا یوه عملي غوښتنه ده. همدارز د طالبانو دریځ چې دوی به هغه وخت خبرواترو ته کښیني چې ټول بهرني پوځونه د افغانستان څخه ووځي، داسې یوه غوښتنه ده چې هیڅ عملي بڼه نه لري. طالبان باید د امریکایانو سره د اشغال په دوران کې خبرې اترې وکړي اود اشغال پایلې ته صبر ونکړي. را به شو د پورتنیو یادو شوو ټکو ځیر او څیړنې ته.

د طالبانو لخوا د افغانستان اساسي قانون منل، وسله ایښودل او پاځون درول به دا مانا ولري چې طالبانو د یرغل په مقابل کې خپل جهاد پریښود او اوسنی اشغال او د اشغال شرطونه یې ومنل. هغه

www.sabawoon.com
د سباوون خپرونه

وخت به بیا طالبان عادي افغانان وي نه د پاڅون او جهاد ډله. طالبان نشي کولی او باید دا کار ونکړي چې د افغانستان اساسي قانون په اوسنی بڼه ومني. د افغانستان د اوسني اساسي قانون د بنسټونو په رڼا کې د لاندنیو سپیناویو پراساس خبرې اترې سرته نشي رسیدی. لومړی، د افغانستان اوسنی اساسي قانون له یوې خوا څخه د افغان ملت د ګټو څرګندوی نه دی او له بلې خوا هغه کسان چې د اساسي قانون په جرګه کې راټول کړل شوي وو د افغان ملت ریښتني استازي نه وو. دوهم، طالبانو د افغانستان د اساسي قانون د جوړولو په جرګه کې برخه نه درلوده. له دې کبله د دوی فکر، اندونه او اندیښنې په اساسي قانون کې نه دي راوړل شوي. د مسئلې بل اړخ د طالبانو دریځ دی چې وایي اساسي قانون دې بیخي له نظر څخه وغورځول شي. داهم دسولې خبرواترو لپاره خنډ رامینځته کوي او کومه ګټه نه لري. که چیرې طالبان ووایي چې دوی به د افغانستان اساسي قانون د سمونو او بدلونونو څخه وروسته ومني، نو دا دریځ به سولې خبرواترو لپاره لار پرانیزي.

که موږ ددې څیرنه وکړو چې اوسنی اساسي قانون او اوسنی حکومت څنګه رامینځته شول بیا به په دې ښه پوه شو چې طالبانو ولې اوسنی دریځ غوره کړی دی. دا پلټنه ډیره اوږده ده مګر ځینې بیلګې چې اوس یې دلته وړاندې کول غواړم، په دې هکله څه ناڅه رڼا اچوي. سره له دې چې دوه ولسمشریزه ټولټاکنې سرته رسیدلې مګر بیاهم ګورو چې هماغه کسان چې د بن په غیردیموکراتیکه پروسه کې راټول کړل شوي اود افغانستان د قدرت څوکیو ته رسول شوي وو، اوس هم د قدرت خاوندان دي او بیا بیا د قدرت واګې ترلاسه کوي. افغانان او نړیوال کتوونکي په دې ښه پوهیږي، هغه کسان چې په بن کې راټول کړل شوي وو چې د افغانستان د راتلونکي په هکله خبرې وکړي ((د افغانستان د خلکو استازیتوب یې نه په مستقیمه او نه په غیرمستقیمه توګه کولی شو.))[بارنیت روبین، افغانستان لپار اساسي قانون جوړول، ۷ مخ] بارنیت روبین وایي، لخدر براهیمي چې د بن د ټولنې مشري یې کوله ((په بیا بیا یې دا ویل، که چیرې دا بریالیتوب ترلاسه شي چې یو استازی او قانوني حکومت رامینځته شي، دهیڅا به هم بیا دا په یاد پاتې نه وي چې راټوله شوي غونډه څومره ناانډوله اود ریښتیني استازیتوب نه پرته یوه غونډه وه.)) [بارنیت روبین، افغانستان لپار اساسي قانون جوړول، ۷ مخ]

د امریکا متحده ایالاتو غوښتنه چې طالبان دې خپله وسله کیږدي اود کابل د سولې پرامه دې ومني، دا مانا لري چې طالبان دې امریکامتحده ایالاتو او کابل حکومت ته ځانونه تسلیم کړي. که چیرې د یرغل په مقابل کې پاڅون نه وي، یرغلګر پوځونه به خپلو اوسنیو کړنو او سیاست ته پاینت ورکړي، خپله پالیسي او اجندا به پرمخ بوځي او هیڅ وخت اود هیڅ شي لپاره به خبرواترو ته چمتو نشي. د جنګ په اوسنیو شرایطو کې دا یوه غیرمعقوله غوښتنه ده چې طالبان دې خپلې پوځي حملې بندې کړي، مګرکله چې دا نخښې نښانې راښکاره شي چې د امریکامتحده ایالات په ریښتیاسره سوله غواړي اود سولې خبرواترو ته وفادار دي، په هغې وخت کې طالبان هم باید خپل پوځي عملیات کم کړي او چې د سولې خبرې اترې پیل شوې، اوربند ته غاړه کیږدي.

www.sabawoon.com د سباوون چپرونه

رابه شو طالبانو ته. د طالبانو دا غوښتنه چې یرغلګر پوځونه دې لوړی ووځي او بیا به موږ خبرواترو ته کښینو، یو غیرواقیعبینانه دریځ دي اود سولې د خبرو په پروسه کې سترخنډ رامینځته کوي. که چیرې امریکایان او ملګري یې خپل پوځونه د افغانستان څخه وباسي، د اوږدې جګړې او ډیرې مرګ ژوبلې او ویجاړتیا وروسته به طالبان پر دې بریالي شي د کابل حکومت اود پخوانی شمالي ټلوالي پوځونو ته ماتې ورکړي اود کابل رژیم رانسکور کړي. له دې څخه پرته طالبان یو بل سترتیکی په دې معادله کې له سترګو غورځوي. د بهرنیو پوځونو وتل اود اشغال پای ته رسیدل به د یرغل اواشغال په مقابل کې دطالبانو اوسنی ملي پاڅون په یو داسې جنګ بدل کړي چې موخه به یې سیاسي قدرت لاسته راوړل وي. هغه وخت به د طالبانو څخه ملاتړ کمزوری شي اود جهاد او پاڅون لپاره به ملګري ونلري، ځکه اشغال او جهاد له مینځه ځي او جګړه به دسیاسي قدرت د لاسته راوړلو لپاره وي.

د طالبانو دا هیله چې دوی به وکړی شي بهرنیو او کورنیو پوځونو ته ۲۰۱۴ زیږدیزکال نه وروسته په اسانی سره ماتې ورکړي اود قدرت واګې په لاس کې ونیسي، کومه عملي جنبه نه لري. له بلې خوا د دې پالیسی عملي کول به په هیواد کې نوره مرګ ژوبله او ویجاړتیا رامینځته کړي. طالبان باید د اوسنیو حالاتو واقیعتونه ومني اود خپلو هیلو او غوښتنو محدودیتونو ته هم پاملرنه وکړي. موخه باید دا نه وي چې د بل په تاوان او ماتې کې خپله ګټه او بری ولټول شي. باید هڅه وشي چې بهرني پوځونه له هیواد څخه وویستل شي اود هغوی وتل اود سولې خبرې اترې د اسلامی اصولو د قانونیت په رڼا کې ترسره شي. د سولې د خبرواترو په پروسه کې شته نیمګړتیاوې باید په داسې توګه حل او له مینځه ولاړې شي چې په پایله کې د سولې د خبرو ټول ګډون کوونکي د وړونکو احساس وکړي او هیڅوک د بایلونکي حس ونلري.

## پر امریکا متحده ایالاتو سیاسي فشار

د حامدکرزي حکومت په دې بریالی نشو چې په هیواد کې سیاسي او اداري نوښت او پرمختیا رامینځته کړي، د بیا ابادولو لپاره کوم روغ پلان جوړکړي اود روغ او پایښت لرونکي اقتصادي پرمختګ لپاره کومه تګلار افغان ملت ته وړاندې کړي. له دې کبله هغه محدود ملاتړ او مشروعیت یې هم له لاسه ورکړی چې دلومړیو ورځو دخوشبینیو پربنسټ رامینځته شوی و. دسولې د خبرواترو له لارې اوس کرزی غواړي چې ځان څخه د شاه شجاع او ببرک کارمل لقبونه لرې کړي کوم چې افغان ملت ورکړی او داراز څه ناڅه مشروعیت او ملاتړ ترلاسه کړي.

د جهاد (۱۹۹۲-۱۹۷۸ زیږدیزکال) او طالبانو د واکمنی (۲۰۰۱-۱۹۹۶ زیږدیزکال) په دورو کې مجاهدین اوطالبان دپاکستان اوسعودي عربستان دسترو اوځانګړو اغیزولاندې وو او دواړو حکومتونو د افغانستان په سیاسي فیصلو او سیاسي راتلونکي کې ستره برخه او اغیزې درلودې. د امریکایانو د

www.sabawoon.com سباوون خپرونه

يرغل، د كرزي حكومت د رامينځته كيدو، د پاكستان لخوا د طالبانو بندي كولو او بيا امريكامتحده ايالاتو ته د سپارلو وروسته دا اغيزې له مينځه ولاړې. سربيره پردې د سعودي عربستان دريځ د منځني ختيځ او اسلامي نړى د مشرحكومت په توګه هم د ګواښ سره مخ دى. دا ګواښ د قطر د حكومت د هاند او خوښيدني له امله رامينځته شوى دى. له نورو عواملو ترڅنګ، دطالبانو او امريكا متحده ايالاتو ترمينځه مينځګړتوب اود سولې د خبرواترو د فضا رامينځته كول به د سعودي عربستان بايلل شوى دريځ په اسلامي هيوادونو او نوره نړى كې بيرته غښتلى كړي.

د تيرو يوولسوكلنو ازمايښتونو افغان ملت او نړيوالوته دا جوته (ثابته) كړه چې د حامدكرزي حكومت سياسي او اقتصادي وړتيا او بسيا نه لري چې د افغان ملت اړتياوو او غوښتنو ته ځواب وويلى شي. حكومت او دولت ددې جوګه نه دى چې د خلكو لومړنى او بنسټيزه اړتياوې او غوښتني پوره كړي، د خلكو په ورځنيوچارو كې اسانتياوې رامينځته كړي او ملاتړ يې وكړي، اوهغه ضروري پروګرامونه عملي كړي چې خلكو ته د نظر وړ تولنيزې او اقتصادي ګټې ورسولى شي. هيواد اوس هم د سياسي جنجال او كړكيچ، فقر او غريبى، ژېړبيو او سيمه ايزو مخالفتونو او جګړو، استثمار، اداري او سياسي فساد، حكومتي فقر، د ملت په هكله بې پروايي اود پرديو هيوادونو لاسوهنو سره لاس او ګريوان دى. كرزى په دې بريالى نشو چې ملت ته وركړل شوې د سولې، امنيت، اقتصادي پرمختګ او ښيګڼې وعدې پوره كړي. جنګسالارانو، د مخدره توكو قاچاق وړونكو او نورو مجرمنيو د حكومت ځاى نيولى دى. همدراز د كرزي حكومت د سياسي او اداري ريفورم د نه عملي كولو په رنځ اخته دى. د بياابادولو اوتلپاتي اقتصادي پرمختګ بې پلاني اونيمګړتيا، دټولنيزعدالت نه شتون چې دغيرمسئوليت او غيرحسابدارى له دركه رامينځته شوى دافغانستان د اوسني رژيم شتون اومشروعيت نورهم تر پوښتني لاندې راولي. دا هرڅه د اداري او سياسي فساد، رشوت، ان جي او، بهرنيو قراردادي انو، جنګسالارانو اود مخدره توكو د مافيا د قدرت، واک او هاند له وجې رامينځته شوي دي. لكه څنګه چې وويل شو ((دحكومت د مشرتابه بيوستوب چې د افغانستان لرې ولايتونو ته امنيت وغزوي، ددې سبب شوى چې د هغوي حيثيت د هيواد د مشرتابه په توګه له مينځه يوسي او ولس د پاڅون دړلې سره يوځاى شي.)) [جيف برنشتاين، پاڅون سره خبرې، ۲۸ مخ] په لنډه توګه ويلاى شو چې د كرزي حكومت د ملت په مينځ كې كوم قانوني ارزښت او مشروعيت نه لري او دا ارزښت او مشروعيت كيدى شي هغه وخت څه ناڅه لاس ته راوړي چې دسولې دخبرواترو په پروسه كې شريك كړى شي. دسولې په هلكه د خبرواترو له لارې څخه به (( كرزى وكړى شي چې خپل حيثيت او مشروعيت ترلاسه كړي كه چيرې هغه پردې بريالى شي چې دپاڅون سره سولې او فيصلې ته ورسيږي.)) [جيف برنشتاين، پاڅون سره خبرې، ۲۸ مخ] له دې سربيره كرزى په دې پوه دى كه امريكايان او نړيوال پوځونه د افغانستان څخه ووتل او نړيوالې مرستې په افغانستان بندې او يا كمې شوې، هغه كسان چې اوس د ده ترڅنګ ولاړ دي اود ده ملاتړ كوي، هغه به هم د ده د ملاتړ نه لاس واخلي او په خپله مخه به ولاړ شي.

www.sabawoon.com
د سباوون څېړونه

په دې ټولو خبرو سربېره، ترټولو مهم ټکی چې کتوونکي او څېړوونکي هغې ته غور نه کوي، هغه د کرزي حيثيت دی چې د افغان ملت ده ته په کومه سترګه ګوري. حامدکرزي د يو ګوډاګي په توګه د کابل د قدرت پرڅوکی کېښنول شوی و او هغه څه يې کول او لايې کوي چې امريکايانو ورته امرکاوه. په انډوليزه توګه د افغان ملت شاه شجاع او ببرک کارمل ته په درنه سترګه ګوري او حامدکرزی تر هغوی سپک ګڼي. حامدکرزی اوس په دې هلوځلو بوخت دی چې د افغان ملت د ويني، سر او مال په بيه دا ثابته کړي چې د امريکايانو او نورو بهرنيانو په مقابل کې يې سخت دريځ نيولی او طالبانو اود پاڅون نورو ډلوته يې د ورورۍ لاس اوږود کړی دی. له دې کبله چې څه حيثيت ترلاسه کړي، کندهارته ولاړ اوخلکو ته يې په خبروکې اقرار وکړ چې دې دبهرنيانو غلام او ګوډاګی و، مګر اوس پوه شوی دی اود بهرنيانو سره يې خپلې اړيکې شلولې دي. بل وخت يې بيا امريکايي او ايسلف پوځونو ته د اشغالګرو خطاب ورکړ. دطالبانو سره دسولې په هکله خبرې اترې يوه هغه هوښياره او مکاره هڅه ده چې دهغې لارې څخه کرزی غواړي څه ناڅه حيثيت لاس ته راوړي. ((طالبان په يوه قانوني، سوله ايزه او سياسي پروسې کې د شريکولو له لارې به کرزی له يوې خوا وکړی شي د طالبانو د مشرتابه واک درلودنه او ملاتړ د طالبانو د کړښو په مينځ کې کمزوری کړي او له بلې خوا څخه د طالبانو هغو مشرانو اود کړښې غړو ته تاوان ورسوي چې دسولې خبرواترو ته نه چمتو کيږي او په دې لاره کې مرسته هم نه کوي.)) د دې ټولو هڅو او هلوځلو څخه موخه داده چې ((که چيرې طالبان داسې يو وړانديز ونه مني چې په هغې کې دپاڅون ډلې ډيری غوښتنې ځای پرځای شوې وي، دا به طالبان د خپلو هغو افغانانو سره په جنجال او کړکيچ کې اخته کړي چې د دوی ملاتړ کوي او طالبان له هغوی لېاره جنګيږي.)) [جيف برنشتاين، پاڅون سره خبرې، ۲۹ مخ]

دپاکستان او سعودي عربستان له شتون څخه پرته دسولې خبرې اترې کيدی شي په افغانستان او سيمه کې سوله رامينځته کړي، مګر پاکستان اوسعودي عربستان به خپل ارزښت او شتون د افغانستان په چاروکې نورهم له لاسه ورکړي. له دې کبله پاکستان غواړي د سولې په خبرواترو اود هغې نه وروسته په راتلونکي سياسي جوړښت کې ستره ونډه ولري، ترڅو له دې لارې خپل ارزښت پيرته پرځای کړي. پاکستان په افغانستان کې د سولې سره کومه خاصه ليوالتيا نه لري. د پاکستان ټوله پاملرنه د پاکستان د ستراتيژيکو ګټو او پاکستان کې د امنيت په هکله ده چې د افغانستان د جګړې سره نښتي او په افغانستان کې د امنيت پورې تړلي دي. پاکستان غواړي د افغانستان د سولې د پروسې چارې په لاس کې ونيسي اود ځان لېاره داسې لارې او اغيزې پيداکړي چې د هندوستان پرضد له هغې څخه ګټه پورته کړی شي.

کله چې پاکستان په دې پوه شو چې د سولې په هکله د خبرواترو له پروسې څخه بهر پريښودل شوی او کومه ونډه نه ده ورکړل شوې، کوښښ يې وکړ چې په امريکامتحده ايالاتو مستقيم او غيرمستقيم فشار راوړي. په مستقيم ډول يې افغانستان ته دامريکا او ناټو دمالونو او وسلو د ترانسپورټ لار بنده کړه. په غيرمستقيم ډول يې د سعودي عربستان له لارې کوښښ وکړ چې پر امريکا فشار راوړي

www.sabawoon.com
د سباوون چېرته

ترڅو د خبرواترو په پروسه کې ګډ کړی شي. سره له دې چې ((طالبانو ویلي وو چې خپلواکي او په تصمیم نیولو کې د پاکستان د مداخلت کمول د دې مانا نه لري چې دوی د پاکستان ارزښت له نظر غورځوي او یا له دې لارې څخه د پاکستان ځورول غواړي))[ف ز خان، طالبان سره خبرې پاکستان سرساموي، ۱ مخ] مګر دا د پاکستان لپاره کافي نه وو. پاکستان غواړي د دې جوګه وي چې د طالبانو په تصمیم نیولو او سولې پر بهیر باندې اغیزه ولري.

سعودي عربستان دوه لوبې رواني کړې دي. یوه خوا کوښښ کوي چې د سولې د خبرواترو په بهیر کې د پاکستان لپاره ستره ونډه ترلاسه کړي او بله خوا کوښښ کوي چې په افغانستان کې خپل ارزښت او سیاسي شتون هم بیرته پرځای کړي. له دې نه ارزښتناکه خبره داده چې سعودي عربستان غواړي په منځني ختیځ کې خپل د مشرتابه حیثیت بیرته پرځای کړي. د کورنیو تولنیزو نیمګړتیاوو، اقتصادي ستونزو او سیاسي اختناق له کبله سعودي عربستان د عربي انقلاب چې د عربي پسرلي په نوم پیژندل شوی، ملاتړ ونکړ او د ولسونو د اواز سره یې خپل اواز یوځای نه کړ. له دې کبله د سیاسي لوبو په ډګر کې وروسته پاتې شو.

په تاریخي کچه سعودي عربستان دطالبانو سره نږدې اړیکې درلودې اوسعودي عربستان دهغو دریوو هیوادونوڅخه یو هیواد وو چې دطالبانو د واکمنۍ په وخت کې یې دهغوی حکومت او نظام په رسمیت پیژندلي وو. د سپتمبریوولسمې پیښې نه وروسته کله چې طالبان دې ته چمتو نشو چې په رسمي توګه ترهګرۍ او تشدد وغندي اود بن لادن سره خپلې اړیکې وشلوي، دطالبانو او سعودي عربستان ترمینځ اړیکي خړې شوې. د دواړو خواوو ترمینځ څو ځلې خبرې وشوې چې اړیکې بیرته روغې شي او پخواني حالت ته ستنې شي او داراز سعودي عربستان د سولې په خبرواترو کې سترلاس ولرلی شي. د سعودي عربستان لخوا دا کوښښ هم وشو چې د سولې خبرې اترې د قطر څخه سعودي عربستان ته یوړل شي، مګر خبرو او کوښښنو کومه پایله ونلرله. د قطر د پاچا شیخ حمد بن خلیفه الثاني اود هغه دحکومت عمومي سیاسي او اقتصادي تګلار اود قطر د لومړي وزیر او بهرنیوچارو وزیر شیخ حمد بن جاسم بن جبرالثاني بیدریغه هلې ځلې اوسیاسي نوښت ددې لامل شوي دي چې قطر له سعودي عربستان څخه په سیمه کې د یو قوي او منل شوي قدرت په توګه مخکې شوی او پرمخ تللی دی. قطر د عربي نړۍ د غړ او اړیکو مرکز ګرځیدلی، د انرژۍ په پیداوارو او تجارت کې لوی لاس لري او ((د ژوند سطحه یې د کورنیو پیداوارو په انډول له ټولې نړۍ څخه لوړه ده.)) قطري واکمنان او مامورین ((د سیمې او ګاونډ د پیچلو توپیرونو او ځیرکتیاوو په هکله کره معلومات لري او تیاری یې ورته نیولی دی.))[تیم لستر، ولې قطر د نړۍ ترټولو شتمن هیواد د طالبانو د خبرو کوربه توب کوي، ۱ مخ] دا هرڅه دسعودي عربستان په زړه نه ځاییږي. له دې کبله یې په امریکامتحده ایالاتو او طالبانو فشار راوستی و، او دا لاتراوسه هم روان دی، چې د سولې د خبرواترو په پړاو کې سعودي عربستان ته مشریزه برخه ورکړل شي.

www.sabawoon.com
د سباوون خپرونه

# د سولې خبرواترو ته نږدیکت

د امریکامتحده ایالاتو په مشرۍ د ایساف قوتونو بیوستوب او وروسته پاتې راتلل چې په افغانستان کې یا کوم روغ امنیت رامینځته کړي او یا هم کوم داسې لاربنود (پلان) جوړکړي چې د هغې له مخې جګړه پرمخ بوځي، دې پایلې ته رسیږو چې امریکایان او ملګري یې باید د افغانستان سیاسي او پوځي واقعیتونه ومني، د خپلو غیرواقعیبینانه غوښتنو او شرطونو څخه تیر شي اود یوې ربښتیني او شونې سولې د خبرواترو لپاره هلې ځلې وکړي. د امریکا ډیرو ملاتړکوونکو هیوادونو لاپخوا دا منلې ده چې د سولې په هکله خبرې اترې یوه اړتیا ده. د برتانیې د بهرنیوچارو وزیر ډیوډ ملیبند د ۲۰۱۰ زیږدیزکال د مارچ په میاشت کې د سولې په خبرواترو ټینګار کړی و. په خپله هغه وینا کې چې د ماساچیوسټ د ټکنالوژۍ انسټیټیوټ ته یې کوله ملیبند په جدي توګه ویلي وو چې ((په سیاسي لحاظ د هغو کسانو سره خبرې اترې کول، چې پر موږ په مستقیمه او یا غیرمستقیمه توګه حملې کوي، ګران کار دي، مګر خبرې کول د لوړوالي ورکولو مانا نه لري، او سیاسي فضا رامینځته کول د ردوونکې قوت (ویټو)، واک او واک درلودنې مانا نه لري.))[کارین دې ینګ، برتانوی چارواکي افغانستان طالبانو اود پاڅون نورو ډلو سره خبرو ته هڅوی، ۱ مخ] د ۲۰۱۲ زیږدیزکال د مې په میاشت کې د استرالیا د بهرنیوچارو وزیر باب کار ویلي وو چې ((په ائتلاف کې د طالبانو شریکول د غوښتنې وړ (مطلوب) کار دي او د ۲۰۱۴ کال وروسته به په هیواد (افغانستان) کې یو عادل سیمه ایز او نژادي انډول رامینځته کړي.))[لینا واسک، باب کار د طالبانو د ونډې ملاتړ کوي، ۱ مخ] له کبله د عملي سیاسي پخلاکیدنې او تړونونو د رامینځته کولو لپاره باید لومړنې ګامونه واخستل شي.

طالبان دا دعوه لري چې د کابل حکومت او اوسنی سیاسي جوړښت د افغانستان د خلکو استازیتوب نشي کولی اود دې واک، وړتیا او قدرت هم نه لري چې د سولې او یا د سولې په هکله د خبرواترو په هکله کوم تصمیم ونیولی شي، ځکه د امریکا اخري تصمیم نیونکې دی. له دې کبله د سولې خبرې اترې باید د امریکایانو سره وشي. سره له دې چې داخبره پرځای ده او وروستنۍ فیصله د امریکایانو په لاس کې ده، مګر د کړکیچ د حل لپاره به غوره دا وي چې طالبان د سولې د خوېپوریزه خبرواترو سره موافقه وکړي او دې ته چمتو شي چې د کابل د رژیم شتون په دوهم پړاو کې ومني.

د دې لپاره چې جګړه په هسکتیا او بریالی توګه پای ورسیږي او تلپاتې سوله رامینځته شي د امریکا متحده ایالت اوایساف پوځونه باید دخپلو هغو موخو څخه تیرشي چې د هغې لارې څخه دوی د طالبانو سیاسي او پوځي کمزوري کول اود ځان په ګټه د خبرواترو د یوې قوي فضا رامینځته کول غواړي. دوی باید داسې یوه سیاسي او امنیتي فضا رامینځته کړي چې په هغې کې د طالبانو مشران دخبرواترو په وخت کې ځانونه مسئون احساس کړي. هغه وخت بیا د سولې خبرې اترې په دریو پړاونو کې پرمخ تللی شي. مخکې له دې نه چې پر دې پړاونو خبرې وشي د امریکامتحده ایالات او طالبان باید لاندنیو پوښتنو ته ځوابونه ورکړي:

سباوون خپرونه
www.sabawoon.com

۱- د امریکامتحده ایالات طالبان د یومنل شوي قانوني پاځون په توګه په رسمیت پیژني او که نه؟

۲- د امریکامتحده ایالات دې ته چمتودي چې د طالبانو سره پرته له قید او شرط نه خبرې وکړي؟ خبري د جنګ، قوت او پاځون په حالت کې.

۳- د امریکامتحده ایالات اود کابل حکومت دې ته چمتو دي چې د طالبانو سره واک وویشي؟

۴- طالبان دې ته چمتو دي چې د خپلو هغو غوښتنو څخه تیرشي چې لومړی دې بهرني ځواکونه ووځي بیا به مورږ خبرې کوو؟ آیا دوی د اشغال په حالت کې خبرو ته چمتو دي؟

۵- طالبان دې ته چمتو دي چې د ځینو سمونو او بدلونونو وروسته د افغانستان اساسي قانون ومني؟

۶- طالبان دې ته چمتودي چې په بهرنیو او کورنیو پوځي هدو او ملکي ځایونو خپلې حملې د څه مودې لپاره ودروي ترڅو د باور فضا رامینځته شي؟

که په دې ټولو پوښتنو کې یوې پوښتنې ته هم د نه ځواب ورکړل شي، نو جګړه به روانه وي او د سولې د رامینځته کیدو هیلې نشي ترسره کیدی. مګر که دې ټولو پوښتنو ته د هو ځواب ورکړل شي، نو هغه وخت باید د خبرواترو داسې یو میکانیزم رامینځته شي چې په هغې کې د سولې خبرې اترې په لاندنیو پړاونو کې سرته ورسیږي.

۱- د امریکامتحده ایالاتو او طالبانو ترمینځ مخامخ خبرې. ددې خبرو موخه باید د پخلاینې او تلپاتې سولې لپاره د اغیزمنو خبرو د فضا رامینځته کول وي. د امریکامتحده ایالات او ملګري یې او طالبان باید په لومړي پړاو کې هڅې وکړي چې د یو اوربند لپاره موافقې ته ورسیږي. د امریکامتحده ایالات باید له خبرو له پیل څخه وړاندې اویا دخبرو له پیل سره هغه طالبان چې په ګوانتانامو، بګرام او نورو پټوزندانونو کې بندیان دي له بند څخه خوشې کړي. د طالبانو د مشرانو او نوروغړو نومونه د تورلست، څارلست او نورولستونو څخه وباسي. داراز د دواړو خواوو ترمینځ یوه موافقتنامه رامینځته کیدی شي. کله چې د دواړو خواوو لخوا موافقه شوه اود طالبانو مشر ملامحمدعمر ومنله، نور طالبان د هغه د فیصلې او امر اطاعت کوي.

۲- له دې نه وروسته خبرې اترې دوهم پړاو ته رسیږي چې په هغې کې به د امریکامتحده ایالات، طالبان، د کابل حکومت او نور مهم اړخونه لکه ګلبدین حکمتیار ګډون ولري. دوهم پړاو ډیر ستوزمن دی ځکه خبرې اترې د افغانانو ترمینځ سرته رسیږي. له دې امله ضروري ده چې یو خپلواکه، غیرګوندي او غیرجهادي د مینځګړتوب جرګه مار ټولګی جوړ شي چې د سولې د خبرو په دې پړاو کې عادلانه او خپلواکه مینځګړتوب وکړي او دا پروسه په صداقت او ایمانداری سره پرمخ

www.sabawoon.com
د سباوون خبرونه

بوځي. د مینځګړتوب په دې ټولګي کې باید حکومتي کسانو، د حکومت، طالبانو او نورو میرڅمنو (اپوزیشن) سره تړلو کسانو، سیاسي ګوندونو او ډلو، جهادي ډلو، جهادي مشرانو او جهادي قوماندانانو ته ځای ورنکړل شي. ددې پړاو موخه باید د داسې پروسې رامینځته کول وي چې هغه بنسټونه رامینځته کړي چې په هغې کې د قدرت د ګډون لارې پرانستل شي او د دښمنو قوتونو ترمینځ کړکیچ له مینځه یووړل شي. د قدرت شریکول به د تلپاتې سولې د رامینځته کولو لپاره خنډونه له مینځه یوسي او سوله به په پراویزه توګه رامینځته شي.

۳- د سولې د خبراترو په دریم پړاو کې به د پورتنیو ډلو ترڅنګ د مدني ټولنو او میرڅمنو ډلو استازې هم ګډون ولري. د یادولو وړ ده چې د خبرواترو لومړي دوه پړاوونه به د ځینو مطلبي خلکو اود سولې د دښمنانو لخوا زیانمن شي، خصوصاً د هغو کسانو لخوا چې په لومړیو دوو پړاوونو کې ځای نه لري. له دې کبله داسې لارې چارې باید ولټول شي چې له یوې خوا څخه د هغوی منفي اغیزې او زیان له مینځه یووړل شي، ترڅو تاوتریخوالی رامینځته نشي او له بلې خوا هغوی ته داډ ورکړل شي چې په دریم پړاو کې به هغوی په خبرواترو کې ګډون ولري. نړیواله ټولنه کولی شي د هغو ضروري بنسټونو په جوړولو او رامینځته کولو کې مرسته وکړي له کومې چې د سولې پروسه د برې پر لور تللی شي. دا به د افغانانو سره مرسته وکړي، خپله ورتیا او بسیا به نوره هم لوړه بوځي، یو بل سره به مرسته او لاسنیوی وکړي، سیاسي دښمنی به حل کړي او باالاخره له مینځه به یې یوسي. ژبنی، قومي او سیمه ایزې خبرې اترې او پخلاینې به رامینځته شي او په ټولنه کې به عمومي پخلاینه او ټولنیزې اړیکې ټینګې شي.

## پایله

سره له دې چې امریکا په افغانستان کې د پوځونو شمیره له پخوا څخه ډیره کړه او د امریکامتحده ایالاتو اود ایساف ځواکونو بیلابیلې جنګي لارې چارې غوره اوعملي کړې، مګر سوله رامینځته نشوه او تشدد په افغانستان کې له پخوا څخه ډیر شو. سیاسي او اقتصادي وده او پرمختګ نه دی شوی او کومې نخښې نښانې هم نشته چې ګواکې امریکا او ایساف دې پر دې بریالي شي چې طالبانو ته ماتې ورکړي او یا دې په هیواد کې سوله، امنیت اود قانون واکمني ټینګه کړی شي. همدارازطالبانو هم د دښمن په مقابل کې د بیلابیلو مستقیمو او غیرمستقیمو تاکتیکونو څخه کار واخست او په دې ورستیو وختونو کې د افغانستان د ملي پوځ او ملي پولیسو کربښو ته هم ننوتل، مګر ګوم د نظروړ تلپاتې بری یې ترلاسه نکړی شو. دا جوته شوه چې د امریکامتحده ایالاتو، ناتو، ایساف او طالبانو لخوا د جنګ جګړې سختې د افغانستان جګړې او کړکیچ ته د پایلې ټکی نشي ایښودی. یواځې هغه وخت به د جګړې ټولې خواوې د جنګ څخه په برې سره راووځي چې ټولې خواوې د سولې خبرو ته کښیني اود کړکیچ په سیاسي حل باندې موافقه وکړي. دا به د دښمنو ډلو اود افغانستان د خلکو په ګټه وي چې دښمن قوتونه د خبرو د نه کولو ضد پریږدي او سیاسي موافقو او راکړو ورکړو ته چمتو شي.

www.sabawoon.com د سباوون چیرونه

اوسنی شک او بې باورتیا باید لومړي لرې او په پای کې بیخي له مینځه ولاړه شي. کله چې د امریکامتحده ایالات د طالبانو بندیان د پټو اوښکاره زندانونو څخه خوشې کړي، د هغوی نومونه د بیلابیلو لستونو څخه وباسي اود طالبانو د ځورولو او ځارلو څخه لاس واخلي باور پیداکیږي او د باور فضا رامینځته کیږي. دا وخت باید طالبان هم د سولې پر لور ګام واخلي او په ملکي او پوځي ځایونو خپلې حملې بندې کړي. له دې وروسته بیا یوې داسې کړنلارې او پروسې جوړولو ته اړتیا پیداکیږي چې د سولې د خبرواترو پایلې پکې پلي شي. د دې ټولو هلوځلو او خبرواترو وروستنی موخه باید یواځې دا نه وي چې د امریکامتحده ایالاتو، طالبانو، د کابل حکومت، حکمتیار او اپوزیشن ترمینځ کړکیچ حل کړي او ستونزې یې له مینځه یوسي. موخه باید د افغانانو ترمینځ د جګړې او دښمنیو د له مینځه وړلو لپاره د افغانانو لخوا د یوې داسې جوړې شوي افغاني طرحې رامینځته کول وي چې د هغې لارې څخه دښمني پای ته ورسیږي، ټولنیزه وړتیا لوړه شي، وروښه قومونه د سوله ایزو لارو څخه خپلې ستونزې حل کړي، یو بل وزغملی او ومنلی شي، ډاډ او باور رامینځته شي، اود ټولنې په مینځ کې ټولنیزې اړیکې او مرستې ټینګې شي. له دې کبله د یو رغاونې جرګه چار (فورم) جوړولو ته اړتیا ده چې دا هرڅه په ښه توګه پلي کړي او ټولنه د ځانګړو ارزښتونو او ګډ راتلونکي په ټغر سره راټوله شي.

چې خبره لنډه شي، ددې ټولوخبرو څخه موخه داوه چې دافغانستان په اوسنی جګړه کې د امریکامتحده ایالاتو او طالبانو تراوسه خپلې پالیسی، تګلارې اوغوښتنې داراز جوړې کړې او مطرح کړې دي چې د سولې خبرواترو ته یې بیلابیل خنډونه پیداکړي. که دواړه خواوې سوله غواړي نو باید په فکر او لیدنه کې بدلون راولي. په دې لیکنه کې زما کوښښ دا و چې له یوې د سولې د رامینځته کیدو په اړتیا او ارزښت وغږیږم او له بلې خوا دې موخې ته د رسیدو په عملي ستونزو رڼا واچوم.

لوي څښتن عالم او لارښود دی.

www.sabawoon.com

# اخستنځایونه


Afghanistan, Uranium Contamination of. "Afghan Field Trip #2 Report: Precision Destruction – Indiscriminate Effects, and The Quantitative Analysis of Uranium Isotopes in the Urine of Civilians after Operation Enduring Freedom in Jalalabad, Afghanistan." *Uranium Medical Research Center.* September/ October 2002. www.umrc.net (accessed November 15, 2012).

Barnes, Catherine. "Renegotiating the political settlement in war-to-peace transition." *Conciliation Resources.* March 20, 2009. http://www.c-r.org/sites/c-r.org/files/Renegotiating%20the% 20Political% 20Settlement_200903_ENG.pdf (accessed November 06, 2012).

Bernstein, Jeffrey M. "Negotiating the Insurgency: The Case for Settling Afghanistan's War and Securing "negative' Peace." *Yale Journal of International Affairs*, March 2011: 23-37.

Cordesman, Anthony. "Avoiding Creaping Defeat in Afghanistan." *Center for Strategic International Studies.* August 28, 2012. http://csis.org/files/publication/120828_Avoiding_Creeping_Defeat_ Afghanistan.pdf (accessed November 5, 2012).

DeYoung, Karen. "British official urges Afghanistan to negotiate with Taliban, other insurgents." *The Washington Post.* March 10, 2010. http://www.washingtonpost.com/wp-dyn/content/article/ 2010/ 03/ 10/ AR2010031003888.html (accessed November 18, 2012).

Green, Dan. ""Negotiating with the Taliban." *Armed Forces Journal.* October 2011. http://www.armedforcesjournal.com/2011/10/7636875/ (accessed November 5, 2012).

Hoh, Mathew. "Letter of Resignation." *Docstoc Home Page.* http://www.docstoc.com/docs/ 13944018/ Matthew-Hoh-Resignation-Letter (accessed November 05, 2012).

House, The White. "Enduring Strategic Partnership Agreement Between the United States of America and the Islamic Republic of Afghanistan." *The White House Home Page.* June 01, 2012. http://www.whitehouse.gov/sites/default/files/2012.06.01u.s.-afghanistanspasignedtext. pdf (accessed November 05, 2012).

Khan, F Z. "Negotiating with Taliban sans Pakistan?" *PK Articles Home Page.* February 02, 2012. http://www.pkarticleshub.com/2012/02/02/negotiating-with-taliban-sans-pakistan/ (accessed November 9, 2012).

Lister, Tim. "Why Qatar, world's richest nation, is hosting Taliban talks." *CNN.com.* January 03, 2012. http://edition.cnn.com/2012/01/03/world/qatar-welcomes-taliban/index.html (accessed November 06, 2012).

Obama, Barak. "Remarks by the President in Address to the United Nation on the Way Froward in Afghanistan and Pakistan." *The White House Home Page.* December 01, 2009. http://www.whitehouse.gov/the-press-office/remarks-president-address-nation-way-forward-afghanistan-and-pakistan (accessed November 03, 2012).


www.sabawoon.com
د سباوون خپرونه

Omar, Mullah Mohammad. *Khabarial.com.* 08 16, 2012. http://www.khabarial.com/2012/08/16/د-کوچني-اختر-د-رارسېدو-په-مناسبت- دطالب(accessed October 15, 2012).

Rowell, Andy. "Route to Riches: Afghanistan." In *Energy Policy*, by Martha Hostetter, 114-116. New York: The H.W. Wilson Company, 2002.

Rubin, Barentt. "Crafting a Constitution for Afghanistan." *Journal of Democracy*, 2004: 5-19.

Rutting, Thomas. "How Tribal Are the Taleban." *Afghanistan Analyst Network.* June 24, 2010. http://aan-afghanistan.com/uploads/20100624TR-HowTribalAretheTaleban-FINAL.pdf (accessed November 06, 2012).

Vasek, Lania. "Bob Carr backs Taliban Role in Afghanistan." *The Australian.* May 18, 2012. http://www.theaustralian.com.au/national-affairs/defence/bob-carr-backs-taliban-role-in-afghanistan/story-e6frg8yo-1226360216437 (accessed November 08, 2012).

د سباوون خپرونه
www.sabawoon.com